د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چارشنبه ۲۷ رجب ۱۴۴۰هـ | ۰۳-۰۴-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۸

مطبوعاتي اعلامیه

## د نړیوالې ټولنې د پالیسیو پیروۍ او د بازار اقتصادي نظام پلي کولو په افغانستان کې فقر زیات کړی دی

د ملي احصایې او معلوماتو د ملي ادارې د نوي راپور پر بنسټ؛ د افغانستان له نیم نفوس څخه ډېر چې شمېر یې اتلس ملیونونو ته رسیږي، په «هراړخیز یا څو اړخیز» فقر کې ژوند کوي.

موږ د فقر زیاتوالی د بازار اقتصادي نظام پلي کېدل او د نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او د نړیوالې سوداګرۍ سازمان له پالیسیو څخه د ړندې پیروۍ او یادو بنسټونو ته د افغانستان دولت د ژمنتیا پایله ګڼو. ځکه په دې وروستیو کې نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د خصوصي سکتور په رشد او مالیاتي اصلاحاتو باندې تمرکز کړی او د افغانستان دولت هم د دغو بنسټونو په وروستیو راپورونو کې ځینې پرمختګونه درلودلي او د هغوی د تشویق وړ ګرځېدلی دی.

همدارز د افغانستان دولت د دغو بنسټونو په دیکته ډول-ډول مالیې لکه؛ پر سوداګرو او صنتعکارانو د درنو مالیو وضع کول، پر وارداتو باندې د ګمرکي تعرفو درې برابره کول او پر ټېلیفوني مکالمو باندې د مالیو وضع کولو ته مخه کړې چې ټولو پورتنیو مواردو د افغانانو ژوند له ستونزو سره مخ کړی او د فقر، بې کارۍ او جنایي جرمونو د زیاتوالي سبب شوی دی.

په حقیقت کې د افغانستان دولت د خلکو د اساسي اړتیاوو په پوره کولو کې پاتې راغلی او د خلکو په دسترخوان کې د بدلون او ښه والي شعارونه غلط ثابت شوي؛ ځکه د دولت لومړیتوب د نړیوالو موسسو رضایت او د هغوی د پالیسیو پلي کول دي، نه د افغانستان د خلکو ستونزو ته رسېدل او د هغوی په ژوند کې بدلون راوستل. د دغه وضعیت په پایله کې فقر زیات شوی او د امریکا او ناټو د نیابتي جګړې د پرمخ بېولو لپاره یې د سرتېرو موندنې بیه بې سارې ارزانه کړې ده.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحریر ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info